مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۳/۳۰

# سباوون

تورو تیارو تـه سباوون غواړمه

خپل ژوندانه لره بدلون غواړمه

قلم، کاغذ او په کتاب پسې ځم

ځمه د پوهې انقلاب پسې ځم!

د درد د خړیکو سـودا نه کومه

نـور دیدنونـه په غلا نه کومه

ډکو جامـونـو د شراب پسې ځم

ځمـه د پـوهـې انقلاب پسې ځم!

دسپینو لېچو که ارمان و نه کړم

ګوندي دي لار کي به تاوان و نه کړم

لېچې پرېږدمه په جناب پسې ځم

ځمـه د پـوهـې انقلاب پسې ځم!



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

په خپلو لاسو خپل جنت جوړوم

ښکلی وطن په صداقت جوړوم

تیاره به ماته کړم، آفتاب پسې ځم

ځمه د پوهې انقلاب پسې ځم!

هر مرور به را پخلا کړمه زه

رانه ناراضه به رضا کړمه زه

نور د ګناه په ځای ثواب پسې ځم

ځمه د پوهې انقلاب پسې ځم!

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

صباوون

Mostafa_p_sabaaoon.pdf